# کاکا صاحب شیخ رحمکار

د اورنګ مغولي پاچا په عصر کښې دپښتونخوا په سیمو کښې هري خواتــه د پښتنــو د آزادیخواهــۍ حرکـات روان وه. کـه پـه دې ملــي غورځنګونو کښې ډېرو مشهورو سردارانو او مشـرانو د پښتنــو رهنمـائی کوله نو روحاني مشران او ستانه هم په دغه حرکاتو کښې بې برخــي نـه وه، هغو که پر میدان توري ځلولې، نو دغو به له خپلي خانقاه څخـه د آزادۍ د جنګ ډګر ته سرتېر زلمی ورلېږل.

تاسي دمخه دکابل په یوه ګڼه کښې د اخوند پنجو د روحـاني ډلــي ملي مجاهدات ولوستل اوس د هغه عصر دملی حرکاتو یو بـل اړخ هـم وګورئ، چي څنګه یو پښتون ستانه د آزادۍ غوښتلو بزم په خپل ګـرم نفس تود کړی وُ؟

چا چي د خوشحال خان د اشعارو غټ دېوان لوستی وي، ضرور به شیخ رحمکار په نامه پېژني چي دپښتنو هغه نومیالی پهلوان ئې پـه څـه عقیدت او اخلاص نوم اخلي؟ او څنګه د خپل نیـاز او ارادت مراتـب د هغه آستان ته څرګندوي؟

دا شیخ رحمکار په کاکا صاحب هم مشهور دی، او په پښتونستان کښي دده کورنۍ په کاکاخیلو سره یادیږي، چي ډېر سیاسي او علمي او ادبي رجال اوس هم په دغه لویه کورنۍ کښي سته، او کاکا صاحب په خپل وخت کښي دوني نفوذ او وجاهت درلود چي دده عقیدت مندان په ټولو پښتنو قبیلو کښي له اباسینده تر کندهاره خپاره وه. او مخصوصاً ختکو خو دی ډېر ستانه ګاڼه، او دخوشحال خان کورنۍ ئې ټول مریدان وه.

د خوشحال خان یو درویش وورور جمیل بېګ مشهور په فقیر صاحب د کاکا خاص خلیفه وُ، او داخوند پنجو شاګردانو هم ده ته په درنه ستر ګه کاته.

د دې سړي اصلي نوم پښتو "کستېر" وُ، چي د یوه خوشبویه ګل نوم دئ، مور ئې بختۍ نومېده، او د (۹۸۳ هـ) کال د روژې په لومړۍ روځ چي جمعه وه د نوښار جنوبي خواته شپږ میله لیري دختکو په یوه کلي کښي د صبح صادق پر وخت پیدا سو.

د پلار نوم ئې بهادر وُ، چي په ابک صاحب مشهور سوی وُ، نیکه ئې نادر نومېده، چي خلکو مست بابا باله، د مست پلار غالب نومېد چي د چراټ د غره په لمن کښي ښخ دئ. د غالب له نیکونو څخه یو سړی آدم وُ، چي د کوهاټ په کربوغه کښي ئې قبر سته.

عبدالحلیم د کاکا صاحب زوی په مقامات قطبیه کښي لیکلي : چي زموږ نیکونه حسیني سادات وه، او د کاکا صاحب د نسب شجره په ۲۴ پښته حضرت امام حسین (رض) ته رسیږي، نیکونه مو په پښین اوغزنيِ او خوست کښي ښخ دي، او دلسمي هجري پېړۍ په اوائلو کښي سپدادم کوهاټ ته راغلی وُ. مګر د کاکا ړخیلو د نسب شجره ټولو مؤرخانو په ختکو پوري نښلولې ده، حتي فقیر جمیل بېګ د خوشحال خان وورور

چي د ده اولاده د خټکو په شیدو کښي فقیر خېل نومیږي، پـر تصـوف او طریقت څه رسائل په پښتو او پارسي لیکلي دي، چي دده په خپل قلم تراوسه په شیدو کښي سته، په دغو رسالو کښي جمیل بېګ مکرراً خپـل راهنما کاکا صاحب خټک ګڼي.

په انګریزي کتابو کښي هم دکاکا خېلانـو قبیلـه دختکـو یـوه پښـه لیکلې سوې ده، مـثلاً سـنټرل ایشـیا (دوهـم جلـد ص ۷۸) د ۱۸۷۳ م طبع. د قبایلو قـاموس ۱۹۱۱ م (ج ۲ ص ۴۹۳) د سـرحد ګزیټیـر ( ج ۲ ص ۹۰۹) د پېښور تاریخ (ص ۳۲۳).

په هر صورت که کاکا خېل اصلاً حسیني سادات هـم وي دوي لـه قدیمه د خټکو پښتنو سره داسي ګډ سوي وه چي د (۹۰۰ ﻫ) پـه حـدودو کښي سوچه پښتانه او خټک ګڼل کېده، او لکه د کونړ اوښبین سـیدان په ژبه، دود، کړه وړه، کالو، اخلاقو او عنعنـاتو کښـي کـورټ پښتانـه وو، حتي چي کاکا اصلي نوم هم سوچه پښتو کستېر وو.

کستېر په کوچني واله د خټکو په سیمه کښي دقاضي اخوند دین او خپل پلار ابک صاحب څخه لوست وکړ، او دپلار په لاس د چشتیانو پـه سلسله کښي داخل سو، بیائې نور طرایق هـم طـی کـړه، او ده پخپلـه ځان اویسي باله، او دمتصوفانو په ډله کښي "قطب حقیقي او متجلي بـه تجلی ذات" وګڼله سو. له اخوند پنجو اوسید آدم بنوري څخه ئـې هـم روحاني ګټي اخیستي، او دزرم هجري کال په شاوخوا کښي پـه زهـد او ریاضـت او تقـوی او کرامـاتو خـورا مشـهور سـو، او دده خانقـاه د کاکاخېلو په کلی کښي ددیني احکـامو او اخلاقـو دتبلیـغ مرکـز سـو. کاکا صاحب اتیاکاله ژوندی ؤ څو د جمعې په ورځ ۲۴ د رجـب ۱۰۶۳ ﻫ = ۲۱ جون ۱۶۵۲ م وفات سو، او په خپل کلی کښـي ښـخ کـئ چـي

مزار ئې تراوسه د زیارت په نامه شپږ میله د نوښار جنوبي څنډې ته مشهور دی.

خوشحال خان دده د وفات تاریخ داسې نظم کوی :

چو رفت از جهان، شیخ دین رحمکار
رجب بود جمـــــــعه بسه وسه هفت
چو تاریخ فوتش بجستم زعـــــــقل
چنین گفت با ما کـــــه "بافقر رفت"

## د ده پنځه زامن :

1. ضیاء الدین شهید .
2. محمد گل چې په حاجي بابا مشهور ؤ.
3. خلیل گل چې په مرزي بابا مشهور ؤ.
4. عبدالحلیم د مقامات قطبیه مؤلف ۱۰۶۶ هـ .
5. نجم الدین کوچنی مړ سویدی.

## د ده مقام او منزلت :

کستیر په خپلو روحاني جوله کښي د خپل عصر د پښتنو یو تکړه رهنما ؤ، د ده په خانقاه کښي د روحانیت مزي د پښتنو د آزادۍ له ملي غورځنګونو سره نښتله، دده دملي او قومي مقام د ټاکني لپاره هم دغه خبره بس ده، چې خوشحال خان غوندي نومیالی او د آزادۍ د ډگر تکړه سپه سالار دده دروحاني خانقاه سره نښتي وو، او چې دقطب حقیقي، له حجرې څخه راووت، نو به ئې د توري ځلا د مغولو استعمارچیان، د جنګ پر میدان ړندوله، له دې څخه ښکاري چې دده روحاني تبلیغ او تلقین لکه د روښانیانو او اخوند پنجو په ډول ایجابي

وٴ، سلبي نه وٴ، او دا هغه نکته ده چې دپښتنو د اجتماعي اوضاع پلټونکی ئې باید مشرحه ولیکي، چې دپښتنو په منځ کښې د تصوف حرکت ددوي له عنعناتو سره څنګه سمون موندلی دی؟ او هغه منزوي او منفي حرکت دلته څنګه په یوه مثبت اوایجابي غورځنګ اوښتی دی؟

د پښتنو صوفي توري هم وهي، توریالی هم روزي خو دخانقا روحاني رڼائې هم لایزاله آلهی رڼا ده، د پښتنو شیخ دراحت زاخیلي په قول د خانقاه د ګوټ شیخ نه دی :

شیخ په ګوټ کي ناست وایي د نفس سره غزا کوم
چي شي توروته ور وړاندي غزا داده

د پښتنو شیخ د نفس په غزا نه دئ قانع د مغولو له عاصبو او اهریمین قواوو سره دخپلي آزادی لپاره هم غزاوي کوي د پښتنو شیخ ، شیخ مولي او پیر روښان او اخوند پنجو اواخوند خالاک او کستیر غوندي وي.

## د کاکا په حلقه کښي ادبي حرکت :

کاکا پخپله دعلم او پوهي خاوند وٴ، دده زامن هم موٴلفان او ځیني شاعران وه. په پارسي او پښتو دده خانقاهی شاګردانو په سلسله یو ادبي حرکت هم موجود وٴ، چي ډیر کتابونه ئې منځ ته راوړي دي.

په دې کتابو کښي دپښتو ادب ذخیره سته د پښتنو د تاریخ او ثقافت ډیر اړخونه هم له دغو کتابو څخه روښانه کېدای سي. دلته به ز ځیني کتابونه ذکر کړم چي د کاکا د شرح حال دپاره له هغو څخه استفاده کېدای سي یا خاص دده په خانقاهی بزم کښي تر ده وروسته لیکل سویدي :

۱. مقامات قطبیه فارسي دده د زوي عبدالحلیم لیک د دهلي طبع (۱۳۱۸ق)
۲. تذکره شیخ رحمکار ، اردو دسیاح الـدین کاکـا خیـل لیـک د لاهور طبع (۱۹۵۱ م)
۳. کاکا صاحب، پښتو د نصر لیکنه د پېښور طبع (۱۹۵۱ م)
۴. د پېښور تاریخ ، اردو د گوپالداس طبع لاهور (۱۸۷۰ م)
۵. تحفـه الاولیـاء ، دمیراحمدشـاه رضـواني لیـک د لاهـور طبـع (۱۳۲۱ق)
۶. مجمـوع البرکـات، د سـید الله شـاه بخـاري لیـک (۱۸۸۵ م) چارسده (خطي)
۷. تاریخ زیارت کاکا صاحب، د حکیم محمدامجد لیک (خطي)
۸. اسرار السالکین د کاکا صاحب مناقب شمس الدین هروي لیک (خطي)
۹. دکاکا صاحب مناقب د شیخ جمال الدین لیک (خطي)
۱۰. مناقـب شـیخ رحمکـار ، دخواجـه گـل نـور ننگرهـاری لیـک (خطي)
۱۱. د کاکا صاحب منظوم مناقـب، پښتـو د میامحمـد مبـین لیـک (خطي)
۱۲. دکاکا صاحب مناقب د شیخ اسمعیل لیک (خطي)
۱۳. مناقب رحمکار، د شیخ یحیی حضرتجي اټک لیک (خطي)
۱۴. د کاکا صاحب مناقب د مولانا غلام محمـد نوښـاري لیـک ، د (۱۹۰۸م طبع)
۱۵. د صوبه سرحد انگریزي گزیتیر، دمیک گریگر لیک د ( ۱۸۸۷ م طبع)

۱۶. سنټر ایشیا ، د ۱۸۷۳ م طبع ج ۲.

۱۷. د پنجاب او صوبه سرحد د قبایلو قاموس ج ۲، د ۱۹۱۱ م طبع.

د پښتنو په ادب او سیاست کښې د کاکا خیلو برخه هم ډېره او نه هېرېدونکې ده، میا حمید ګل کاکاخېل د انګرېزانو سره دپښتنو د آزادۍ د جنګ روح روان ؤ، ده ته خلکو د ( فخر قوم) خطاب ورکړی ؤ، چې په ۱۹۳۹ م کال وفات سو، ( وګورئ د آزادۍ جنګ، ص ۴۸ ) او میا جعفر شاه کاکا خېل هم ددې جنګ یو سپاهي ؤ، چې تر اوسه د آزادۍ په فکر ږیره سپینوي.

په ادیبانو کښې هم له دې درنې کورنۍ څخه محمد شاه خیال او میا آزاد ګل او میا حسیب ګل او میا مسرور ګل او رحمان او محمدیوسف او روغ لېونی او سامع مظهري او نسیم او تسنیم الحق او فرمان او ډېر نور سته چې زموږ د پښتنو لپاره ئې په نثر او نظم کښې ښه ښه آثار پرې ایښي دي او که سړی د کاکا صاحب زیارت ته ورسي هلته دپښتنو یو سپېره او دختو کلی دی خو له هره کوره ئې یو دپښتو لیکوال راوزي، او سړی خوښېږي چې دا پښتانه د ژوند څپو لاندې لاهو کړي او خپل ملي ژوند، ملی فکر، او پښتني عنعنه ساتي.(۱)

(۱) کابل مجله، د ۱۳۴۱ کال ، ۵ مه ګڼه، ص ۲۱ _ ۲۶ پوري.